**زه توقیف شوی یم -**
**اوس څه پیښیږي؟**

تاسو د پولیس په واسطه د یو شوي مغایر قانون 36 (Udlændingeloven) (Consolidated Aliens Act) مادې پر اساس توقیف شوي یاست. تاسو د خپل توقیف پرمهال د یوه وکیل درلودلو حق لرئ. فقط ستاسو وکیل ستاسو د علاقې مسؤل دی.

بې له شکه تاسو به یو شمیر پوښتنو ته ځواب وواياست، د همدې لپاره یو شمیر تجربه لرونکي وکیلانو دا رساله منځته راوړې ده، په کومه کې چې تشریح شوي چې ستاسو وکیل تاسو لپاره څه کولی شي کله چې تاسو د یو شوي مغایر قانون 36 (Udlændingeloven) (Consolidated Aliens Act) مادې پر اساس توقیف شوي یاست.

**توقیف**

ستاسو د توقیف پرمهال، پولیسو ممکن تاسو ته لنډه شرح وړاندې کړي وي چې ولې تاسو توقیفیږئ. پولیس به تاسو ته دا مشوره هم درکړې وي چې تاسو حق لرئ د خپل هیواد سفارت یا قونسلګرئ سره اړیکه ونیسئ. که تاسو پناه غوښتونکي یاست، نو د دانش مهاجرت کونسل سره هم اړیکه نیولو حق لرئ. پولیسو به نوره هم تاسو ته مشوره درکړې وي چې تاسو به د هغه وخت نه وروسته چې کله توقیف شوي یاست په اخرني 3 24 x ساعتونو کې محکمې ته حاضر کړی شئ. په محکمه کې ستاسو د حاضریدو دمخه، قاضي به اطمینان لاسته راوړي چې تاسو یو وکیل ګمارلی دی.

په محکمې کې د حاضریدو پرمهال، قاضي په پریکړه وکړي چې آیا ستاسو توقیف ته ادامه ورکړل شي یا آزاد کړی شئ.

**د ستاسو خپل وکیل کارول**

ستاسو وکیل کولی شي تاسو سره مرسته وکړي کله چې پولیس ستاسو قضیه پرمخ وړي. تاسو کولی شئ د ډیری مهمو پوښتنو په لړ کې مرسته لاسته راوړئ، کله چې مو قضیه پرمخ ځي. دا خورا مهم دي چې پوهه شئ تاسو ستاسو وکیل د څه شي لپاره کارولی شئ.

- د وکیل دنده

دا د وکیل دنده ده چې ستاسو د توقیف پرمهال ستاسو د علاقو پاملرنه وکړي، په شمول د اطمینان ورکولو – ستاسو په مرستې سره - چې تاسو د خورا لنډې ممکن مودې لپاره توقیف کړی شوي یاست.

- د چارواکو په واسطه د قضیې څیړل

د مهاجرت چارواکي دي چې پریکړه کوي ایا تاسو د دې حق لرئ چې ډینمارک کې میشته شئ او کار وکړئ. پولیس به اړین تحقیقات ستاسو قضیې لپاره پرمخ ویسې ترڅو فیصله شي. تاسو اړ یاست چې پوښتل شوي پوښتنو ته ځواب وواياست، مګر کولی شئ چې د مرکې پرمهال د خپل وکیل شتون غوښتنه وکړئ. دانش د مهاجرت خدمات، څارنوال او د دانش امنیتي او استخباراتي خدمات کولی شي ستاسو په اړه معلومات وړاندې کړي که ستاسو قضیې پورې اړوند وي یا ملي امنیت ته مهم وي.

- محرم مرکه

ستاسو وکیل اجازه نلري چې څه ورته تاسو ویلي وي هغه د نورو سره شریک کړي یا افشا کړي، نه هم پولیسو ته او نه بل چا ته. په بله معنی، ستاسو مرکه محرم ده. ستاسو وکیل فقط هغه وخت کولی شي بل چا سره هغه څه شریک کړي چې تاسو ورته ویلي، کله چې ورسره تاسو موافق یاست. که د ستاسو وکیل سره ستاسو ناستې پرمهال کوم ژباړونکی حاضر وي، نو په ورته ډول اجازه نلري څه چې تاسو ویلي د بل چاسره شریک کړي.

**د وکیل انتخاب**

تاسو پخپله کولی شئ انتخاب کړئ چې څوک باید ستاسو نمایندګي وکړي. که تاسو غواړئ چې خپل وکیل بدل کړئ نو تاسو کولی هغه وکیل ته ولیکئ چې غواړئ ستاسو نمایندګي وکړي. په بدیل ډول تاسو کولی شئ محکمې یا پولیسو ته لیک ولیکئ. د سم آدرس موندلو لپاره د زندان کارمندانو څخه غوښتنه کولی شئ.

**ستاسو وکیل ته پرداخت یا ورکړه**

محکمه به تاسو لپاره ستاسو وکیل وګماري، د دې په پام کې نیولو پرته چې تاسو یا محکمې د وکیل غوښتنه کړې وه. د وکیل فیس د دولت لخوا ورکول کیږي. نو د دې لپاره تاسو د قانوني نمایندتوب لپاره پرداخت نه کوئ.

**د ژباړونکي درلودلو حق**

مخکې له دې چې تاسو محکمې ته حاضر کړی شئ، د پولیسو په واسطه مرکې یا ستاسو وکیل سره ناستې پرمهال تاسو د ژباړونکي درلودو حق لرئ. دا مهم دي چې تاسو حق لرئ ووای چې د ژباړونکي په پوهیدلو کې ستونزه لرئ یا حس کوئ چې ژباړه ستونزې رامنځته کوي. ژباړونکي ته هم دولت پرداخت کوي.

**لیدنې او لیکونه**

تاسو حق لرئ چې لیدونکو سره ملاقات وکړئ، په بیله بیا لیکونه واستوئ او لاسته یې راوړئ. په ځینې حالتونو کې پولیس کولی شي پریکړه وکړي چې تاسو نه باید د ځانګړي وګړو سره لیدنه وکړئ یا غوښتنه وکړي چې لیدنې مو نظارت شي. دا پریکړې د محکمې نه مخکې سرته رسي. پولیس کولی شي چې ستاسو لیکونه هم مخکې د لیږلو یا لاسته راوړې وګوري، او کولی شي په ځانګړي حالاتو کې ستاسو لیکونه ودروي. د پولیسو په واسطه ستاسو د لیکونو کوم درول باید ژرترژره د محکمې دمخه راوړل شي.
تاسو تل حق لرئ چې د خپل وکیل سره نا نظارت شوي اړیکه ولرئ.

**توقیف ـ په اعظمي ډول یو وخت کې 4 اونۍ**

تاسو په یو وخت کې په اعظمي ډول د څلور اونۍ لپاره توقیف کې ساتل کیدی شئ. کله چې نیټه پای ته رسي، نو یو قاضي په وازموي چې ایا ستاسو توقیف لپاره اوس هم مناسب زمیني شتون لري که نه. دا پریکړه د محکمې لنډې ناستې پرمهال کیږي، چې تاسو هم حق لرئ پکې حاضر اوسئ. په هرصورت، د محکمې غونډه کیدی شي وارېدل شي نو تاسو او ستاسو قانوني نماینده کولی شئ چې د قاضي سره د اډیو – ویډیو ارتباط له لارې وغږیږئ.

ستاسو وکیل کولی شي چې ستاسو د خلاصی لپاره اعتراض وکړي او دلیل ووایی. له بل پوله، پولیس باید دلیل ولري که غواړي چې ستاسو توقیف ته ادامه ورکړي.

قاضي اجازه لري چې ستاسو توقیف په یو وخت کې په اعظمي ډول ترڅلور اونیو پورې وغزوي. له دې وخت وروسته، تاسو باید یوه قاضي ته حاضرشئ، څوک چې پریکړه کوي چې ایا ستاسو توقیف باید ادامه ومومي که نه. د همدې لپاره، تاسو نشئ کولی چې د 4 اونیو دورې پای ته رسیدو وروسته د خلاصیدو تمه وکړئ. په هرصورت، تاسو حق لرئ چې د توقیف 4 اونیو دورې پای ته رسیدو وخت کې د قاضي سره ناسته ولرئ.

توقیف نباید ډیر اوږد وي او په نورمال ډول نباید 6 میاشتو ته وغزول شي.

که د ولسوالی (محلي) محکمه تاسو ازاد نکړي، نو تاسو تل کولی شئ خپله قضیه عالي محکمې ته ویسئ، کومه چې تل کولی شي وټاکي چې ایا تاسو باید ازادشئ که نه. عالي محکمه د لیکلې قضیې پر بنسټ خپله پریکړه کوي، پدې معنی چې د ستاسو یا ستاسو د وکیل د قاضي سره غږیدو وړتیا امکان پرته.

**اختیاري غزول ـ په اعظمي توګه 2 یا 4 اونۍ**

کله چې د توقیف دوره پای ته رسیدو شاوخوا وي، نو تاسو د خپل وکیل سره په ګډه کولی شئ پریکړه وکړئ که چیرې تاسو په اختیاري ډول په یو وخت کې د توقیف تر 2 څخه 4 اونیو پورې غزول منئ.

دا ستاسو د وکیل په واسطه محکمې ته په لیکلو سرته رسي او د اختیاري غزولو نیټې سره موافقت. د دې معنی دا ده چې تاسو اړتیا نلرئ محکمې ته حاضرشئ.

**یوه سفارت یا قونسلګرۍ ته حاضریدل**

پولیس کولی شي وټاکي چې ایا تاسو باید د خپل هیواد یا کوم بل هیواد سفارت یا قونسلګرۍ سره وګورئ ترڅو مو پیژند وټاکل شي یا د سفر اسناد مو ورکړل شي. که تاسو د کوم سفارت یا قونسلګرۍ سره ناستې مخالفت وکړئ، نو تاسو کولی شئ د پولیسو څخه غوښتنه وکړئ چې د محکمې دمخه پوښتنې راوړي، د دې لپاره چې وټاکل شي تاسو ته ناسته اړینه ده که نه.

**ایا تاسو شک لرئ؟**

دا تل ستاسو وکیل لپاره ممکن نه وي چې ووایی دقیقا هغه کوم وخت کولی شي تاسو وګوري. نو دا کیدی شي ستاسو لپاره یو ښه اند وي چې خپلې پوښتنې ولیکئ، تاسو کولی شئ دا خپل وکیل ته د راتلونکي ناستې پرمهال ورکړئ.

که تاسو مطمیین نه یاست یا د کوم شي په اړه شک لرئ چې ستاسو قضیې په اړه وي، نو تاسو تل حق لرئ چې د خپل وکیل سره اړیکه ونیسئ.